# د افغانستان د استقلال
# تر سيوري د پاکستان ازادي

رومـــی بـــدلے شـــامی بـــدلے بـــدلا هندوســـتان
اپنـــی خـــودی پهچـــان او غافـــل افغـــان

ډاکټر فضل الرحيم مروت

د علامه اقبال د دې شعر په رڼا کښې کۀ مونږ وګورو نو دے په غرب او شرق کښې د بدلون خبره کوي او د افغان او پښتون اولس ته هم په ناصحانه انداز کښې د پاڅون غږ پورته کوي خو رښتيا خبره دا وه چې شلمې پېړۍ کښې په دنيا کښې د سائنس او ټېکنالوجۍ ترقۍ يو خوا انسان ته ژوند اسان کړۀ او نوي سهولتونه ئې ورته ورکړل، د زرګونو کلومېټره فاصلې د ورځو او ګېنټو په سفرونو کښې بدلې شوې، د سېلابونو، طوفانونو او نور آفتونو له مخکښې نه پېشن ګويانې وشوې او هغې سره د افتونو زور کۀ ختم نۀ شو نو کم ضرور شۀ خو دې سره سره څۀ کشالې هم مخې ته راغلې او هغه دا چې هغه نظرېې چې په يوه سيمه کښې به ايسارې او لا سياسي انقلابات به په جغرافيائي حدودو کښې بند وو، هغې خپل سيمه ايز بندونه وشلول او ګاونډي هېوادونو باندې اثر اندازې



شوې. د افغانستان او پاکستان په مېنځ کښې تش په نوم ۲۲۵۰ کلومېټره ډيورنډ کرښه ده، په دې حواله د اوبو هر څاڅکے چې افغانستان کښې پرېوځي هغه موجوده پاکستان يا پخواني برطانوي هند ته رارسېدلے دے. زوړ تاريخ به پرېږدو چې د مرکزي اسيا نه کۀ چا حمله کړې ده او کۀ څوک د قحط سېلاب يا انقلاب نه راتښتېدلي دي دا ټول په مختلفو درو او لارو هند ته رارسېدلي دي او دغه شان چې کۀ چرته په مرکزي هند کښې هم څۀ سياسي پېښه يا څۀ نوره کشاله رامخ ته شوې ده نو خلق افغانستان يا مرکزي اسيا ته لاړ دي. په لنډه توګه دا اثرات يو مخيزي نۀ بلکې دوه اړخيزي او زاړۀ نۀ بلکې اوس هم په يو بل اثر انداز کېږي.

د خپل پلار امير حبيب الله خان دمرګ نه پس چې امان الله خان په ۱۹۱۹ کښې د افغانستان په

تخت کښېناست نو هغهٔ سره د مخکښې نه د هند، ترکیې او مرکزي اسیا انقلابیان او افغانستان مشروطه خواهان (آئین غوښتونکي) موجود وو. په بله معنې دې د انقلاب د سمبول په توګه په تخت کښېناست. د دهٔ نه نهٔ صرف د افغانستان اولس بلکې د هندي انقلابیانو، د مرکزي اسیا د خلقو او د پښتونخوا د خلقو هم ډېر توقعات وو او هم دغه وخت ایران، ترکي، هند او افغانستان کښې نېشنل ازم په یو نوي شکل کښې راپورته شو. په افغانستان کښې د نېشنل ازم په دې نوي شکل کښې راپورته کېدلو ځهٔ علتونه دا شان وو.

- د انګلس ا فغان جنګونه
- د ګندمک او ډېورنډ تپلې شوې معاهده
- د انګرېزانو پښتنو سیمو کښې ظلمونه او پرمختګ
- د غربي قوتونو د عثماني خلافت دړې وړې کېدل.
- افغانستان کښې د مشروطه (آئین) غوښتونکو نهضت.
- په روس کښې بالشویکي انقلاب چې د نړۍ د ټولو خواري کښو خلقو د ازادۍ چغه ئې پورته کړه.
- اولنۍ نړۍ وال جنګ.
- او په هند کښې سیاسي نهضتونه.

په افغانستان کښې نېشنل ازم چې کوم شکل اختیار کړو هغې ته مونږه په ځهٔ توګه جنګي شکل وئیلې شو او د دې هم درې وجوهات وو. اوله وجه ئې دا وه چې نولسمې پېړۍ کښې د انګلس افغان جګړو په وجه د افغانستان نه یوه ډېره غټه برخه خاوره ببله شوې وه. دوېمه دا چې د پښتنو د نیمې نه زیاته ابادي انګرېز ورنه اخستې وه او درېمه وجه ئې دا وه چې خپل استقلال یا اقتدار اعلې یا ازادي ئې هم له لاسه ورکړې وه. نو اوس د افغانستان اولس نه واخله تر باچا پورې د سیاست مرکز د دې درېو نکتو نه تاوېدو او اخره کښې دا چغه راپورته شوه چې "یا مرګ یا استقلال" ګو د افغانستان د ځوانانو ا فغانانو (Youth Afghans) او د امان الله خان مرام صرف استقلال ترلاسه کول نهٔ وو بلکې دوي غوښتل چې مونږ ته خپل ورک شوے جنت یعنې د پښتنو زمکه د پښتون اولس په لاس واپس راشي.

ډاکټر عبدالغني خپل کتاب کښې د امان الله خان په حقله لیکي چې " (امان) خارجي زنځیرونه وشلول چې افغانستان پکښې تړلے ؤ او هغهٔ غوښتل چې خپل هېواد کښې ټول پښتو ویونکي خلق شامل کړي. هغه پان افغانک جذبات لري چې د هغهٔ د پالیسۍ بنیاد دے. ګو چې د هغهٔ طلب قانوني او صحیح ؤ خو شاید د موجوده دنیا حالات به د دې پوره کولو ملاتړ ونهٔ کړي".

په لنډه توګه غازي امان الله خان د کابل عیدګاه جومات کښې په برطانوي هند کښې د غزا اعلان وکړو، په ټول جومات کښې صرف یوه چغه وه چې "یا مرګ یا استقلال". امان الله خان، عبېدالله سندهي او د هغهٔ نور ملګري ئې هم په اعتماد کښې واخستل او ځهٔ د روس ملګریو سره ئې هم چې هاغه وخت په کابل کښې موجود وو، خبرې اترې وکړې. دلته یوه یادونه ضروري دې چې ګو د روس نوي انقلابي حکومت دوي سره ښکاره ځهٔ مالي امداد ونهٔ کړو خو د مارچ ۲۷مه ۱۹۱۹ ورځ د افغانستان ازادي او اقتدار اعلې ئې تسلیم کړه.

امان الله خان د مختلفو کماندرانو په سربراهۍ کښې چې هندي انقلابیان مشاور ورسره هم شامل وو، هند طرف ته روان کړل. د فوځ نه علاوه قبائلي لښکرې او اولس هم ډېر جذباتي انداز کښې ډېر په مخه روان وو. دوي ځۀ علاقې مثلاً ټل او د وزیرستان ځۀ برخې ونیولې خو د وسلې نشتوالي، تکنیکي کمزوریو له کبله انګرېز شان هوښیار او زورور قوت ته ماتې ورکول ځۀ اسان کار نۀ ؤ او بله خبره دا چې موجوده پښتونخوا کښې انګرېزانو په ډېرو ځایونو کښې کرفیو ولګوله او د جنګ دپاره ئې مخنیوے وکړو خو انګرېزانو او افغانستان اخر کښې ۳ جون ۱۹۱۹ته د جنګ بندۍ اعلان وکړو او اخر کښې ۲۵ جولائي ۱۹۱۹ کښې یوه معاهده په راولپنډۍ کښې لاس لیک شوه. افغان وفد انګرېزي حکومت ته یو تجویز د وزیرستان په حقله وړاندې کړو چې کۀ وزیرستان د افغانستان حکومت ته حواله شي نو دا به د دواړو ملکونو دپاره ډېره ښه وي خو انګرېزانو دا تجویز ونۀ مانۀ.

د راولپنډۍ د معاهدې په پنځو شقونو کښې د ازادۍ یا د دوستۍ د معاهدې ذکر نۀ ؤ، خو دې سره ئې یو اضافي خط افغانستان ته حواله کړو چې الفاظ ئې دا دي:

"چې دا معاهده او خط افغانستان سرکاري توګه باندې اندروني او بېروني معاملاتو کښې ازاد او خودمختار پرېږدي او د دې نه علاوه دغه جنګ ټولې مخکښې لاس لیک شوې معاهدې ختم کړې."



انګرېزانو امن ترلاسه کړو او افغانستان استقلال خو انګرېزانو دې سره سره ۱۹۱۹ کښې د هند په ټولو صوبو کښې د اصلاحاتو اعلان وکړو، ولې له بده مرغه کوزه پښتونخوا (NWFP) کښې دا اصلاحات نافذ نۀ شول. جنوري ۱۹۲۰ء کښې د خلافت تحریک زور واخست چې تقریباً اویا زره هندیان پکښې شامل وو او ډېرو پښتنو پکښې د برطانوي هند نه افغانستان ته هجرت وکړو. باچا خان هم دې هجرت کښې شامل ؤ. امان الله خان په دې وخت کښې ترکستان (مرکزي اسیا) کښې ؤ او هندي مهاجرینو دپاره ئې "نظام نامۀ مهاجرین" په نوم سره پښتو او فارسۍ کښې یو پنځۀ شپږ پاڼې کتابچه جاري کړه چې هغې کښې د مهاجرت سره تړلیو ټولو قوانینو او سهولتونو وضاحت شوے ؤ. په ۱۹۳۲ء د چمرکنډ مجاهدینو یو اخبار د "المجاهد" په نوم جاري کړو دې اخبار د انګرېزانو په ضد خلق قبائلي سیمو کښې راپارول او په ضد ئې تبلیغات کول.

دې نه یو کال وړاندې امان الله خان افغانستان ته د اول ځل دپاره په مارچ ۱۹۲۲ء کښې قانون اساسي یعنې آئین ورکړو او ورسره ورسره تعلیم، صحت، روزګار او د ژوند نورو شعبو کښې ئې د اصلاحاتو اعلان هم وکړو. په ۱۹۲۸ء کښې امان الله

خان د استقلال و تجدد چغه راپورته کړه او د دې پروګرام تر سیوري ئې د اصلاحاتو احکامات جاري کړل.

دې ټولو حالاتو په هند، مرکزي اسیا او کوزه پښتونخوا ډېر اثرات واچول او خلقو غازي امان الله خان ته د پاچائۍ مترقي (Progressive King) خطاب ورکړو. دغه وجه وه چې باچا خان هم د امان ازم مفکورې لاندې د تعلیم و تربیت د علم خورولو ازاد سکولونه جوړولو، اصلاح افاغنه او خدائي خدمتګار تحریک شروع کړو. ګو چې ۱۹۲۹ء کښې د امان الله خان په ضد انګرېزانو د سازشونو یو جال خور کړو او نتیجه ئې دا شوه چې امان الله خان افغانستان پرېښوؤ خو د هغۀ شخصیت او اصلاحاتو په وجه په کوزه پښتونخوا او هند ډېر ژور اثرات پرېوتل. د هغۀ نه پس بچه سقا (حبیب الله کلکاني) او د نادرخان راتګ یو نوے باب ؤ، خو دې نه وروستو د انګرېزانو نظر هم بدل شو او په پښتونخوا او هند کښې ئې د اصلاحاتو دپاره کمېټۍ او کمېشنونه جوړ کړل. مختلف سیاسي تحریکونه، مختلفو شکلونو کښې ظاهر شول او اخر کار خوارلسم اګست ۱۹۴۷ء ته پاکستان د درېم جون ۱۹۴۷ء د ماؤنټ بېټن پلان په نتیجه کښې د برطانوي هند نه بېل کړے شو خو د پښتونخوا د قسمت فېصله بیا هم په زور تېلې شوي ریفرنډم وشوه او عجیبه اتفاق دا دے چې د جدید افغانستان د جوړېدو کال هم ۱۹۴۷ء دے او د پاکستان کال ۱۹۴۷ء دے او د ازادۍ تاریخ ئې ۱۴ اګست دے او د افغانستان ورځ هم ۱۹ اګست ده. ■

## د پښتنو بد قسمتي

د سوات، دیر او بونېر خلق ورو ورو د دې علاقو نه چاپېرې خپلو خپلو کورونو ته روان دي. د دې متاثرینو دپاره د بهر دنیا ځنې حکومتونه او ځنې تنظیمونه د هغوي د بحالۍ او روزنې پالنې دپاره په مختلفو شکلونو کښې امداد کوي. د نور امداد نه علاوه ځنې تنظیمونو د هغوي د لائبرېریو دپاره د کتابونو اخستو بندوبست کړے دے.

د کتابونو دغه بندوبست چې په هره ذریعه او هره طریقه کېږي دا د ستائنې وړ دے. البته په پوره ډول معلومه شوې خبره دا ده چې په دغو کتابونو کښې مقدار هر څۀ او هر څومره چې دے، د معیار ئې پته نۀ لګي، ممکنه ده چې ښۀ او معیاري کتابونه به هم پکښې وي خو د اخستو د طریقه کار نه داسې معلومېږي چې د معیار خیال پکښې نۀ دے ساتلے شوے او نۀ پکښې شائد چې د دغو کتابونو د پوره پوره استفادې کولو خیال ساتلے شوے دے. دا خبره تصدیق شوې ده چې په دې کتابونو کښې چې دلکونو په حساب اخستي شوي، دا به په ریکارډ خو راځي ځکه چې سرمایه پرې خرچ شوې ده خو دا به د دغو علاقو لائبرېریو ته ورکولے کېږي، کۀ په عامو خلقو کښې به تقسمېږي، دا پته نۀ لګي. ځکه چې د پښتنو په سکولونو کښې لائبرېرۍ د نشت برابر دي او د کالجونو لائبرېریو ته ئې د هر وګړي لاس نۀ رسي او د لائبرېریو نظامونه هم په سمو بنیادونو نۀ وي روان. دا هر څۀ په خپل خپل ځائے مسئلې دي. خو دغه په لکونو کتابونه چې اخستے شوي دي، په دې کښې زیاتر د انګرېزۍ دي، په دوېم نمبر اردو شاید چې د عربۍ هم پکښې لوئے تعداد وي. خو د پښتنو پکښې صرف نهه کتابونه اخستے شوي دي. یعنې د سوات، دیر او بونېر په سر درې درې کتابونه، دا د پښتو ژبې بدنصیبي ده، کۀ د پښتنو بې وسي، غفلت ورته وو ایو، کۀ بې حسي چې کوم کتابونه د پښتنو دپاره اخستے کېږي، د هغې پوزېشن دا دے چې د پښتون او پښتنو اهمیت ته پکښې هېڅ اهمیت نۀ دے ورکړے شوے.